# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


درویش وردک
۲۰ اپریل ۲۰۱۵

## باری جهانی او دملا ځپیره!

جهانی چی له کلونو لخوا دواک اوشهرت تږی او وږی و، اوس خپل معراج ته ورسید؟ په «عجیب » او «غریب» ترکیب کی وزیر راووت!!! شاه باس د«غیبانه بابا زویه» نیکه خودیوازی دیوه زیارت ترپوره وخوت؟ تا خورینتیا دپلار دریښتینی بچی په توګه ترډیروخواریو، کړاونو، جاسوسیو، ترانه سراییو، مداحیو، پښتو بازیو، طالب بازیو، دړانده مشاورکیدلو، ګوړکی اوشکسپیر بازیو، وروسته وتوانیدلی خپل معراج «په ګواډګی اداره کی وزارت» ته ورسیدی؟؟؟

ستاترجنون اوستا ترخواریوستی　　　دځواک په لارکی ستا ترکړاونو اوزجرونوصدقه!

هوکی! دوستانو، درست دطالبانو دامارت په وخت کی کله چی دوی کابل ونیو، نوډیرو زړو لیوانو پخوانی پسونه په خوب ولیدل؟ یوله دوی ځخه هم «باری جهانی» دګواډګی اداری دفرهنګ وزیر!!!باری جهانی دخپل قومی اړیکوپواسطه دملاوکیل متوکل( اوس دامنیت ملی ترخارنی لاندی په کابل کی) یومکتوبګی غوندی ترلاسه کړاومخ په لوی کندهاریی راودانګل ترڅوخپل د ارادت دګلونو لړی د ړانده ملا په غاړه کی واچوی؟

جهانی کله چی د تورخم ځخه　راواوښت نو وینه یی په رګوکی دارغند په ځیرپه جوش راغلی وه اود جنون ځنځیرونه یی هم په غاړه کی و! دامریکی غراوتوری تروری زندانونه هم مات کړی و، اودخپلی ناوکی(ځواک) شنوخالو په لاره اخیستی مجنون وار، په دی خیال چی دی به دامارت دسندری ټکی شی؟ دخدای له کړو خبرنه و، دتورخم –جلال آباد په لور د ډهکی په سیمه کی دطالبانودتلاشی پوسته اوچک پاینټ و، دده چی ږیره دچرات دسیمنټو په شان تکه شنه وه ، نو دملاصاحب دپاملرنی وړوګرزید. راکښته سه انګریزه! ملا صاحب زه جهانی یم! ځوک یی؟ جهانی ! عبدالباری جهانی! دده چی پښی پرځمکه نوی لګیدلی ملاصاحب( ترلاس یی جارسم) یوه خوندوره مدرسه ای ځپیره دده په سمنټی مخ حواله کړه! واه ! واه! بیانوجهانی چی ترکلیوالی پولی راتیټ شوی و، له جیبه دخارجه وزیر متوکل لیک راوایست اوطالب جان ته یی وښود. طالب هغه ته وکتل اوده ته یی دسر په اشاره موټر ته دبیرته ختو امروکړ، اوموټر په لاره روان شو.

جهانی چی دطالب جان له ځپیری ځه هم نوو زده کړی؟ اودقدرت غوښتنی دریاب یی طوفانی شوی و او دشهرت جنون یی ټولی زولنی ماتی کړی وی؟ ځان تر امیرالمؤمنین ؟؟ پوری ورساوه! او دخپل ارادت اوخلوص ښکاره کولولپاره یی دټولی روشنفکری ښوونی ځخه یوازی نکټایی ته هم ونکتل اوپه ټولو یی لاړی توکړی. له ډیره

انتظـــــــــاره امیر تشریف راوړی، او خپل ځادر له اوږی په چوکی اچوی او ده ته حتی دروغ بړ لاس هم نه ورکوی؟ (ستا ترسجدو اولیونیوسلګوصدقه)- بیا نو ړوند ملاترکښیناستووروسته وکیل احمد ته سترګی اړوی؟ هغه وایی: دا جهانی صاحب شاعر، زمونږدکندهاردی، راغلی اوځومشوری غواړی تاسو ته درکړی؟ بیا نومخ جهانی ته اړوی اوپرته له دی چی یوه خبره له خولی وباسی په سترګو کی تری پوښتی؟ جهانی بیا نو پداسی حال کی چی دواړه لاسونه دپښوپه منځ کی کلک نیولی و، اوخوله یی خلاصه اوتوله کوله دخپلی چاپلوسی یودوه خبری چی فکرکوم دتصویر اوهم دنجونودښوونی په هکله؟؟ بیا نوملاولاړسو، جهانی او متوکل دواړه په خپله مخه لاړل. (دشهرت په لارکی ستاتر تشوخمونوستی).

اوس نو شکر باسه خپل مراد اوخپل معراج ته ورسیدی؟ ریښتیا: جوینده یابنده است.

**چی غوټی پسی وهی په لاس به درشی          چا ویل چی په دریاب کی ګوهر نشته**

زما لیکنه تردیره پښتنو ځوانانوته ځیره! ځکه دوی به هم دجهانی په ځنځیرونو اوزولنو پسی سرګردانه ګرزی! او په فیس بوک اونورو رسنیوکی ورته کمپاین کوی؟ زما توصیه دوی ته داده چی : جهانی لومړی دسره استعمار مزدور، مداح اوپلوی و، اوپه دی لاره کی، ګورکی، پوشکین اونورو ته ترسجدو وروسته، دخاد ترجاسوسی هم مخکی لاړ، بیا نو چی تله دسام کاکا پرخوا کړه شوه؟ نو جهانی هم په ډیر مهارت ګودر بدل کړ اومخ یی دامریکی امپریالیزم ته راواړاوه اوکلونه یی ددوی دعوام فریبی اوولس وژنی سورنی وغږاوه:

**ګودرونه بدلوم، قلمونه زروم          ای دوزارت ګودره، ځان به تاته رسوم**

بیا یی مونږ ته دناتو ښکلی سرود هم جوړکړ، او د اخوان، سلف، ستم، افغان ملت، اونورو دغوبل په ترڅ کی چی دپښتو اوپارسی جګړه توده روانه وه ، ده دسولی سرود جوړ کړ، پښتنوته یی دوینو سیلابونه، اخوان ته یی دډوبی اوتاجکستان شنه محالونه، یانکیانو ته په بګرام اونورو بیسونو کی دپیغلی افغانی سره اننګی، چاته شراب چاته دسپیو ځیرلی کالی، چاته یی په کابل کی دیسکوتیکونه اوچاته یی هم په زنګاوټ کی دلیونی سپی ځیرلی جسدونه په ارمغان راوړل.

زمونږفرهنګ، زمونږادب، زمونږ تاریخ- په تا شرمیږی، چی تا په خپله ادبی غلا سره دلیکوالانو او غازیانو تولی وشرمول، ته به ملنګ جان، الفت، پژواک اونورو ته څه لیکی. تا خو زمونږ د ادب اصطلاحات غلاکړل ، بیا دی هغه ددښمن په چوپړ کی وکارول، اوپه دی هم بسیا نشوی؟ نو دزمونږ فرهنګ ته سپکاوی وکړ! که چیری په افغانستان کی په هرخره زیارت جوړشوی وی، نوته به هرومرودهماغه خره زوی یی؟؟ ته دغیبانه بابا زوی یی! ته دمیکدی شرمیدلی یی! ته په هغه څه چی وایی باورنلری؟ ستا په شعرونو کی که حماسه وای نوتا به ولی دروسانو اودهغوی دګواډګیانو غلامی کوله، اوددوی په امکاناتوبیا ترامریکی هم ورسیدی؟ دخلکو زامن یی په لمانځه او اوداسه مړه کړل. اوکه دپه شعرکی داخلاقو اومعرفت څرک وای؟ نوتا به لکه دسلفیانو اواخوانیانو پشان مونږ په ډبرو نه ویشتو! خیر!

**هرکراخدابراندازد          بادرویشانش براندازد**

ستا هویت او ولدیت خو اوس لاپسی په ثبوت رسی ، ترڅو یو څه موده په خپل معراج(وزارت) کی تیره کړی، اوبیا به سره ګورو.

**جهانیکیه اوس مو یو یو غلیم بس دی          چی وطن مو کله خپل شو بیا به ګورو!**

په لیونی هیوادنی مینه- درویش وردک